UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی بیانیه
http://unama.unmissions.org

## یوناما د ملکي کارګوونکو وژنه په کلکه غندي

**کابل، د اګست ۲۷، کال ۲۰۱۳-** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) د هرات په ولایت کې د شپږو تنو ملکی کسانو تښتونه او وژنه په کلکه غندي.

د وژل شویو ملکي کسانو په ډله کې پنځه تنه د نجات د نړیوالي کمیټي (آی ار سي) کارمندان شامل وو. دغه سازمان یو بشرپالونکي غیر حکومتي سازمان دی او د ملي پیوستون د پروګرام یو محلي همکار دی. دغه سازمان د ملي پیوستون د پروګرام محلي تطبیق کوونکی دی. د دې پروګرام موخه د بشري شرایطو ښه کول او په ټول افغانستان کې په کلیوالو سیمو کې د عادي افغانانو لپاره د اقتصادي فرصتونو برابرول دي.

طالبانو د دې وژنې مسوولیت په غاړه اخیستی دی.

یوناما د دې یادونه کوي چې د بشرپالني د نړیوال قانون له مخې ملکی کسان ټول هغه خلک دي چې په نیغه توګه په شخړو کې برخه نه اخلي او جنګیالي نه وي. د ملکي وګړو په ضد بریدونه په هر وخت کې نا مشروع ګڼل کیږي او کیدای شي چې جنګي جرم وبلل شي.

یونام د وژل شویو کسانو کورنیو ته د خپلې همدردي پیغام استوي.